**مضمون اصل قلمی دارد: تائید** ۵۳- ۹۸- ۱۳۹۸/۱/۲۴ **اخترته به ولې نه هوسېږو؟**

**اصلاح نهايي گرديد: فولدر مضامين چاپ شده برج جوزا ۱۳۹۸** **مولوی عبدالملک حمیدی**

الله پاک انسان مکلف کړي او اسلامی شریعت یې دحلالو او حرامو په بنه سره ورته رالیږلی، ترڅو یې د بدبختی او بدمرغی له ګودال نه دنجات، خلاصون او سمون په لورو خوځوي، حلال او حرام هریو پخپل ذات کې خاص حکمتونه او فضیلتونه لری ټول ددی په موخه چې بشر پدی نړی باندې نیکمرغه ژوند کړي او نورو موجوداتو ته هم دبدمرغی لامل و نه ګرزی، بلکه دا دنیا آباده او د الهی نعمتونو څخه دخپل ځان او چاپیریال او ټولو موجوداتو په ګټه کار واخلی.

الهی شر ائع که ظاهراً تکلیف معلومیږی، خو حکیم شارع پکې خپله همدغه بنده او ټولو انسانانو لپاره ډیر حکمتونه او ښیګڼی اچولی دي.

اودا هم الهی سنت دي چې هرعبادت چې په ډیره سختی او مشقت سره ترسره کیږی، نو ثواب او عظمت یې هم د خدای ﷻ په وړاندی ډیر زيات وي.

دمثال په توګه روژه چې یو ډیر سخت بدنی عبادت دي او انسان دلوږی او تندی سره مقاومت کوي، ددنیا ټول حلال نعمتونه دخپل رب د خوښی په منظور پریږدی، نه څه خوری، نه څه څښی او نه هم خپل انسانی ضرورت د شرعی لاری پوره کوي.

سهار ترماښامه پورې نوه نیسی، نه یوازی خوله تړي، بلکه ټول بدن یې ترخپل خاص کنترول او مر اقبت لاندی وي، پوره یوه میاشت، دا رنګه حالت غوره کوي، دڅه په خاطر؟

ددی له پاره چې خپل معبود، بادار او الله خوښ کړي، دهغه رضا ترلاسه کړي، جنتونه، نعمتونه او تلپاتی ابدی اخروی ژوند ښکلی کړي....

څکه نويي بدله ډیره خوږه او ترټولو نورو عباداتو خاص امتیاز او برتری لری، چې الله تعالی ورته فرمايي:

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾ الزمر: ۱۰

**ژباړه**: یقیناً دا خبره ده بله نده چې الله به د صابر انو اجر بی حسابه ورکړی.

د روژه تی لپاره الله تعالی پخپله بدله او ثواب ورکوی، (الصیام لی و انا اجزی به)

روژه زما لپاره ده او زه يې پخپله اجر ورکوم، نو کله چې رب الجلیل پخپل عظمت او علو شان سره خپل بنده ته بدله ورکوی، هغه به څومره لوړ امتیاز وي؟

همدا رنګه حج چې یو بدنی او مالی ستړی او سخت عبادت دی، مال پکی مصرفیږی، بدنی سختی ستړیاوی ورسره مل دي، نوځکه د اسلام سترلارښود به کله چې دحج او یا عمرې نیت کاوه نو ورسره به یې جوخت ددغه ستړی عبادت په ښه انجامولو باندې دخپل رب نه یې د آسانی دعا کوله:

«اللهم انی اریدالحج فیسره لی و تقبله منی».

ای خدایه! زه د حج اراده لرم، ماته ئې آسانه او لمانه قبول کړی.

نوځکه الله متعال دحجاجو په اړوند دخپل پیغمبر په مبارکه ژبه فرمايي:

(الحج المبرور لیس له الجزاء الا الجنة) دمبرورحج بدله یوازی جنت دي.

په بل روايت کې فرمايي:

(من حج فلم یفسق ولم یرفث رجع کیوم ولدته امه)

**ژباړه**: څوک چې پداسې ډول سره حج وکړی چې فسق، بی حیايي او ناوړه کارونه ونکړی نو دحج نه به داسې بیرته راوګرزی لکه دموره چې نوی زیږیدلی وي.

هوکی!

روژه تیره شوه او هغه تکلیفونه چې الله پاک پرمسلمان باندې ددغه الهی فرض په اثر اېښی ؤ، خلاص شول، اوس نو لکه چې په مبارک حدیث کې راغلی دمسلمان ددرمند اخیستلو وخت راغلی:

«للصائم فرحتان یفرحهما فرحة عند افطاره و فرحة عندلقاء ربه».

**ژباړه**: دروژه تی لپاره دوې خوشحالی دي چې هغه به وربانديې خوښیږي، یوه خوشحالی هغه ده چې دی افطار کوي، روژه ماتی کوی او بله خوښی هغه مهال ده چې دی پخپله دغه روژه سره دخپل رب سره ملاقی کیږي.

روژه تیره شوه او دمسلمان روژه تی دخوښۍ او اختروځ را رسیدلی، بختورروژه تی خو هغه دی چې دغه یوه میاشت روژه یې سمه او په ټولو شر ایطو او اصولو بر ابره دبدن په ټولو اندامونو سره نیولی دي، ډیرپکی تکلیف شوي دي، لوږه او تندی یې زغملی وي، دشپې لخوا نه یې تهجد، ترو ایح او دقرآن تلاوت، نیک عملونه، دغریبانو او بې وزلانو پالنه، صدقه، خیرات، زکات، دخیر او نیکۍ خبرې او کارونه کړي وي، نو نن پدغه تاریخي ستره د خوشحالۍ ورځ باندې به سرلوړی او ډیر خوښ وي.

دا ارزښت لری چې دغه اختر ته ډیر خوشحاله وی، خپلې نوی جامې واغوندی، خوشبویي استعمال، دخدای لومړنۍ شکر انه چې هغه د اختر لمونځ دی دنورو مسلمانانو سره په عید ګاه کې اداء کړي، یو دبل له احوالو خبر، یوله بل سره داختر مبارکی وکړی په دغه عیدګاه کې خپل رب ته لاس به دعا شی چې ای ربه! په دغه بختوره او دخوښۍ نه ډکه ورځ می ټول آرمانونه پوره، ټول ژوند می راته آرام، آسوده او عزتمند ورګزوي، دهیواد نه می جنګ، وروروژنه، وینه تویئدنه او ټولی بدبختۍ لیری او سوله او امن می کورته راولی....

اختر ته به ولی څوک خوشحاله نه وی، دا خو داسلامی امت دخوښۍ او جشن ورځ ده او فلسفه خویې هماغه ده چې کله داسلام ستر لاربنود حضرت محمد مصطفیﷺ له مکی معظمی نه د مدینی لورته تشریف یوړ، ګوری چې دمدینې اوسیدونکی دپخو انیو نارو ا ادیانونه په تقلید ورپاتی دوی ورځی اخترونه جوړوی، خوښی کوی، نورسول الله وپوښتل: دا څه مناسبتونه چې تاسې یې لمانځئ؟ دوی وویل: دا خو زموږ دخوښۍ او اختر ورځی دي، نو بیا نبی کریمﷺ ددوی دهغه څه منع او ویې فرمایل چې زما دامت لپاره دوی ورځی داخترونو دي چې هغه دکوچنی اختر ورځ او بله هم دعید اضحی(لوی اختر) مبارکه ورځ ده.

نوله هغې ورځې نه دا دوې ورځې دمسلمانانو او اسلامی نړۍ لپاره دخوښۍ او لمانځنې ورځې وټاکل شوي.

داختر شرعی فلسفه همدا ده چې دا دمسلمانانو یوه نړیواله او ټولنیزه دخوشی ورځ ده، مسلمانان او اسلامی امت خو دیوه بدن حیثیت لری لکه په یوه بدن کې چې کوم غړی ناروغه وی نو ټول بدن ورسره ناآرامه او سرګردانه کیږی، همدا رنګه په روژه کې ټول مسلمانان که نروی یا ښځه بډای وی یا بی وزله، تورپوستی وی که سپین یا زیړپوستی، عرب وی که عجم، دشرعی ضرورتونو پرته ټول یوشان مکلف شوی څو درمضان دمبارکې میاشتی روژه ونیسی، نوهلته بډایان او شتمن خلک دبی وزله او غریبانو له کمزوری او بی وسه حالت څخه خبریږی او په دغه لوږه او تنده سره یی په بدن کې دتعاون، مرستې او انسانی خواخوږی احساس را ژوندی کیږی او دغه ټکی ته متوجه کیږی چې لوږه او تنده او یا یوازی وچه ډوډی خوړل څومره ګران کاردي، دا چې غریبان ورسره ټول عمر لاس او ګریوان دی، څومره سخته ده، زه په دغه یوه میاشت کې څومره وکړیدم، آیا دا بیچارګان نفس نلری، اولاد یی ښې غذا، جامو او ښه ژوند ته ضرورت نلری، نو راځه ددغې میاشتی دتیریدونه وروسته او نن داختر په دغه بختوره ورځ کې دخپل رب دخوښۍ او ثو ابونو ګټلو په موخه هغه ته څه ورکړه.

دا احساس هلته ډیرپیاوړی کیږی چې کله دغریبانو اولادونه وینی چې پلرونو یې ورته دبی وزلۍ په وجه او یا دا چې پلرونه نلری او په یوه او بل نامه سره قربانی شوي، ببرسرې مورګانې خوپی دومره وس نلری چې خپلو یتیمو بی وزله اولادونو ته نوی جامې او څورنګه میوې، کلچې او... تیارکړی، نو دمسلمانانو د اخترونو په دغه ورځوکې دبا ایمانه بډای مسلمان ایمانی احساس را پاریږی او دخدای ورکړې شتمنۍ څخه هغه مظلومو یتیمانو، بی وزلانو او خپلو ګاونډیانو ته یوڅه ورکړی او د رب الجلیل هغه مبارک کلام دحال او قال په ژبه زمزمه کوی چې فرمایی:

﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴾ الإنسان: ٨ – ١٠

**ژباړه**: او ورکوی طعام خواړه دزړه په هخوښه مسکینانو، یتیمانو او بندیانو ته او دا ورته وایی چې تاسوته دا د الله د رضا لپاره درکوم او پدی سره له تاسوڅخه دبدلې او مننی غوښتنه نکوم، یقیناً موږ دخپل رب نه ویریږو چې دقیامت په ورځ رانه په غوسه او ناراضه او مخ اړوونکی وي.

اختر ته به ولی خوشحاله نشی، اختر خو دخوښۍ، عفوی، ښښنې، تیریدنی سولې او پخلاینې ورځ ده، پدی ورځ ډیر بندګان بښل کیږی او یا خوئی په بندونو او دزندان مودو کې تخفیف راوستل کیږی، دکلونو کلونو مروروروڼه، تربرونه، کلیوال او هیواد وال یوله بل سره خپلی ټولی تربګنی، دښمنی، بد بینۍ پریږدی، یو بل ته غاړه ورکوی، مرورتوب نور ختمیږی.

د ډیرو قومونو او یاهم افرادو ترمنځ چې شخړی، جنګونه او وژنې تیر شوی وی نو داختر د ورځی په حرمت او مناسبت سره یوبل ته تیریږی او په تیرو شوو ټولو کړنو باندې هره خوا پښیمانی څرګندوی او پدغه ورځ یوله بل سره ټینګ هوډ او تعهد کوي چې تورنو شخړه او وژنه بس ده!

پدی ورځ ډیر خدای نیک بندګان خپل پورونه او حقونه نوروته وربښی.

اختر ته به ولی څوک نه هوسیږی، په تیره بیا هغه مظلوم دربدره او جنګ ځپلی انسانان، چې هره ورځ یې په کور او کلی دغم ټغر خوروی، هره ورځ یې په کور بمونه او راکټونه اوریږی، هره ورځ یې ورور، دتره زوی، ګاونډی او خپلوان په یوه او بل نامه سره وژل کیږی، هره ورځ یې وړوکی

زوی او یا لوردپیسو او یا نورو شومو اهدافو او اغراضو دلاسته راوړلو په موخه د انسان تښتوونکو وحشی ځناورولخوا نه تښتول یا وژل کیږی.

هره ورځ په انتحاری، انفجاری یا راکټی حملوکی په سل ګونه هیوادوال، ښځې، ماشومان، ځوانان، دښوونځی زده کوونکی، دخدای په کورکې خدای ته په سجده مسلمان هیواد وال او بالآخره هغه چې دیوې ګولۍ ډوډی د راپیدا کولو په موخه په بازار او کوڅو کې پلاستیکونه خرڅوی او یا کراچی کې کچالو خرڅوی په شهادت رسیږی او دبدن هدوکی او اندامونه نه راټولیږی.

هره ورځ غم، هره ورځ ماتم، اوښکی، ژړاوی، یتیمان، تپیان، ټول هیواد می راته په هدیره بدل شو، هرې خوا ته چې ګوری هلته دشهداوو بیرغونه رپیږی....

نو اختر خو اصلاً دهغو اختر دي چې دا ناورینونه یې په هوسونو او خوښیو بدل شي، دا تیاری یې په رڼا ورته عوض شی، جنګونه یې په تلپاتی دایمی سوله، دښمنی یې په ورورولۍ او کنډوالی یې په لس منزله باندې بدلې شی.

اختر خو هماغه دی چې نور جنګ او وروروژنه بنده او یو بل ته دیوه مسلمان او افغان په حیث غاړه ورکړو، خپل رب ته توبه ګارشو او خپلی ټولی تیروتنې بیا را تکرار نکړو.

یومتل دی چې وایي: غرکه هرڅومره لوړوی خوپه سریې لاره وي.

سوله او تیګاوکه هرڅومره په ظاهری بڼه سره ستونزمن ښکاری، خو دالله تعالی په خاص فضل او رحم او زموږ مسلمانانو په پوره هوښیاری، بیداری او له تیروناخوالونه په پند اخیستلو، دا کارناشونی ندی، خو قوی عزم، اخلاص، تیریدنی، سرښندنی او خدای او دهغه دین دتسلیمیدو ته اړتیا لری.

راځی دخدای په خاطر، ددغه مبارکې میاشتی او اختر نیکمرغه ورځې په حرمت دخپل رب سره په دغه ورځ دا تعهد وکړو چې نوربه یوبل ته ورورو ایو، سوله به پخپله راولو، نوربه بیځایه تربګنی نکوو، نوربه پخپل لاس خپل کورنه ړنګوو، نوربه دخدای په کلام(قرآن) باندې منګولی لګوو چې راته وایي:

﴿ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا ﴾ آل عمران: ١٠٣

او ټول د الله په رسۍ- دین- باندې منګولی ولګوی او اختلاف مکوی او د الله هغه نعمت دریاد کړی چې تاسې خپل منځ کې سره دښمنان وی نو ستاسې زړونو کې یې مینه واچوله او د الله تعالی په نعمت سره وروڼه وګرزیدلی.

او راته فرمایي:

﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ الأنفال: ٤٦

**ژباړه**: او دالله او دهغه درسول پیروی وکړی او منازعه او اختلاف مکوی چې بیا به سره تیت وپرک او قوت به مو ختم شی او صبرکوی چې الله تعالی دصبرکوونکو سره مل دي.

په دی ستر امید سره چې زموږ دغه نیکمرغه کوچنی اخترکې الله رب العزت راته سترې خوښی راکړي، هغه خوښی چې موږ کلونه کلونه ورته سترګی په لاره ؤ، چې هغه دایمی سوله او جنګ بندیدل او یو بل ته دوروری او مینی محبت لاس ورکول دی، نو هله به زموږ اختر اختر شی، هله به زموږ ماشومان لاسونه په نیکریزو سره او خپل نازنین وربلونو کې به ګلان دتومبی او په آزاده فضا کې به د اختر مبارکی ته پرته له هرډول ویری نه له کوره را بیرون شی.

یا الله ته خو دغه ورځ موږ ته راوله او زموږ دغه راتلونکی اختر په دایمی لوی اختر باندې بدل کړه.

و ماذالک علی الله بعزیز